## پوښتنه او ځواب

## د هند لخوا د کشمیر ځانګړي دریځ د لغوه کېدو ترشا څه دي؟

**پوښتنه:**

سپینې ماڼۍ په یوه وینا پاڼه کې ویلي: د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د جمعې په ورځ د پاکستان لومړي وزیر عمران خان ته په ټلیفوني اړیکه کې وویل: هند او پاکستان باید د «دوه اړخیزو خبرو اترو» له لارې په جمو او کشمیر کې شخړې را کمې کړي. (رویټرز، ۱۷/۸/۲۰۱۹) پای. د هند لومړي وزیر نریندرا مودي په داسې حال کې په رسمي توګه کشمیر له هند سره یو ځای کړ، چې ټرمپ د هند او پاکستان ترمنځ د کشمیر مسله لانجمنه ونه ګڼله. د هند لومړي وزیر مودي د هند د خپلواکۍ د ورځې یعنې ۲۰۱۹م کال د اګېسټ پر ۱۵مه په یوه وینا پاڼه کې وویل: «حکومت یې هغه څه ترلاسه کړل، چې تېر حکومتونه یې په لاسته راوړلو کې پاتې راغلي وو.» (شرق الاوسط، ۲۰۱۹/۸/۱٦)!

**پوښتنه دا ده:** په داسې حال کې چې هند په رسمي توګه کشمیر له ځان سره یوځای کړ، نو خبرو اترو ته څه اړتیا ده؟ دا چې پاکستان پوځي ورتیا لري، نو ولې د جهاد له لارې د کشمیر د ازادولو لپاره اقدام نه کوي؟ او ایا امریکا په دې برخه کې څه رول لري؟ الله سبحانه وتعالی دې لوی اجر درکړي.

**ځواب:**

د دې لپاره چې پورتنۍ پوښتنې ځواب شي، لاندې ټکي څېړو:

۱-د نړۍ د ټولو سیمو په پرتله د امریکایي سیاستوالو لپاره اوراسیا سیمه تر ټولو مهمه ده او امریکا هڅه کوي چې په یاده سیمه کې یې پر وړاندې بل سیال سر راپورته نه کړي. په دې سیمه کې د امریکا پر وړاندې څلور بالقوه سیالان شته: روسیه، چین، جرمني او خلافت، خو د امریکا پر وړاندې بالفعل سیال چین دی. امریکایي ستراتیژي جوړوونکي د امریکا د ګټو پر وړاندې د شوروي اتحاد تر پرځېدو وروسته چین ته د لوی ګواښ په سترګه ګوري. امریکایي ستراتیژیستانو په عملي ډګر کې د چین سمندري ځواک د کمزوري کولو لپاره له اسیا پسفیک هېوادونو څخه ګټه اخلي.

دوی په اوراسیا کې د هند لویه وچه د چین ستر ځواک ټوکېدو پر ضد کارولې ده... او امریکا په اسیا پسفیک سیمه کې له یو شمېر هېوادونو لکه: تایوان، تایلنډ، ویتنام، فلپین، جاپان، اندونیزیا او استرالیا سره ګډ ایتلافونه کړي او په دې سیمه کې یې خپلې ورتیاوې پیاوړې کړې دي. په هند کې په ۱۹۹۰م کال د اتل بهاري واجفای

تر راتګ پورې په دغې لويه وچه کې هېڅ لوی ايتلاف نه و. کله چې په ۲۰۰۰م کال ولسمشر کلېنټن له هند څخه ليدنه وکړه، نو هغه مهال له هند څخه پوره ګټه اخيستنه پيل شوه. په لنډه توګه ويلی شو، چې د بوش اداري د ۲۰۰۱ م کال د سپټمبر له ۱۱مې پيښې څخه وروسته هند ته ځانګړې پام واړاوه. امريکا د خپلو پروګرامونو له لارې ګڼ شمېر اقدامات وکړل. د هند او چين ترمنځ يې پوځي ستونزې رامنځ ته کړې، چې له ډلې يې له هند سره د امريکا هستوي هوکړه يادولی شو.

۲- امريکا پوه شوه، چې د هند او پاکستان ترمنځ د کشمير پر سر لانجه د چين پر ضد روانه مبارزه کمزورې کوي ... نو پر يادو لانجو د بريالي کېدو لپاره يې د هند او پاکستان د اړيکو د عادي کولو په موخه ځينې ګامونه پورته کړل. د دغه کار موخه دا وه، چې د هند او پاکستان ځواکونه د کشمير پر سر د نښتې پر ځای له امريکا سره د چين پر خلاف مرسته وکړي. امريکا په دې باورې وه، چې له هند سره د کشمير يو ځای کول او پر پاکستان باندې فشار راوړل به د دواړو تر منځ د پوځي شخړو مخه ونيسي او خبرو اترو ته به لاره هواره کړي. په دې سره به ياده لانجه ختمه شي، لکه په فلسطين کې د عباس اداره او شاوخوا عربي هېوادونه، چې د يهودي دولت پر ضد نظامي اقدام نه کوي، هغه يهودی دولت چې فلسطين يې اشغال کړی او د ټول فلسطين د نيولو هيله لري! له همدې امله نريندرامودي له هند سره د جمو او کشمير د يوځای کېدو او د نقشې د بدلون ( population's demography) پلان پيل کړ، چې د ۲۰۱۹م کال د اګېسټ پر ۵مه يې د کشمير اړوند د اساسي قانون د ۳۷۰مې مادې د لغوه کېدو پرېکړه وکړي. يادې مادې کشمير ته په زياته کچه کورواکي ورکړې وه.

کشمير د دغې مادې له مخې په اساسي قانون، بيراغ او ډېرو نورو برخو کې خپلواکې درلوده، پرته له بهرنيو اړيکو څخه چې په هغو کې دفاع او مخابرات شامل دي. د دغې مادې په لغوه کېدو سره د بيا تنظيمېدو لايحه جوړه شوه، چې له مخې يې اشغال شوی کشمير په دوو سيمو ووېشل شو: جمو- کشمير او لدهخ دواړې سيمې يې په نوي ډهلي کې له فدرالي حکومت سره وتړلې. د هند مشرانو جرګې يوه ورځ وروسته د ۲۰۱۹م کال د اګېسټ پر ٦مه په ۱۲۵ موافقو او ٦۱ مخالفو رايو سره ياده لايحه تصويب کړه. د ۳۵ مې مادې لومړۍ فقره د هند د نورو سيمو اوسېدونکو ته اجازه نه ورکوي، چې په کشمير کې ملکيتونه او ځمکې وپيري. دا فقره هم لغوه شوه او د نورو اياالاتونو اوسېدونکو هنديانو ته يې اجازه ورکړه، چې په کشمير کې ملکيتونه وپيري او د دولتي دندو لپاره غوښتنليکونه ورکړي. د کشمير ډېرى اوسېدونکي مسلمانان دي، نو ځکه دا يو کلتوري او ديموګرافيک بدلون دی... او هغه بدلون ته ورته دی، چې په پايله کې يې يهودي دولت فلسطين له ځان سره يوځای کړ او د هغه ديموګرافۍ ته يې بدلون ورکړ. هغه څه چې نتنياهو يې د امريکا په اشاره په فلسطين کې کوي، همدې ته ورته يې مودي په کشمير کې کوي. د هند لومړی وزير مودي د امريکا په اشاره او ملاتړ د اسرايلو د لومړي وزير تګلاره په کشمير کې کاپي کوي.

۳- کله چې هند اعلان وکړ، چې د کشمیر ځانګړي دریځ به له منځه وړي؛ نو د پاکستان دریځ ډېر مایوسوونکی و، د شرم او رسوایۍ له امله یې له غندلو پرته نور هېڅ ونه کړل. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت په یوه بیان کې وویل: پاکستان په کلکه د نوي ډهلي نننی، یعنې د ۲۰۱۹م کال د اګېسټ د ۵مې اعلان غندي او ردوي. د هندي حکومت هېڅ یو اړخیز اقدام د دغې لانجې په حل کې مرسته نه کوي، که څه هم چې یاده لانجه د ملګرو ملتونو امنیت شورا په پرېکړو کې بیان شوې، چې پاکستان به د دغه اقدام پر ضد له هرې ممکنې لارې کار واخلي. (فرانس پریس خبري اژانس، ۲۰۱۹/۸/۵). په مسکو کې د پاکستان سفیر قاضي خلیل الله وویل: «پاکستاني چارواکي د کشمیر په تړاو سملاسي له ډیپلوماتیکو، سیاسي او حقوقي لارو څخه د هند د وروستي اقدام پر ضد کار اخلي او یوه ځانګړې کمیټه جوړه شوې، چې حکومت ته په دې اړه سپارښتنې وړاندې کړي.»

بل خوا لکه څرنګه چې فلسطینۍ اداره او شاوخوا عرب هېوادونه د یهودي دولت لخوا د فلسطین سپېڅلې خاورې نیواک یوازې غندي او د سرغړونو په تړاو یې یوازې نیوکې کوي، پرته له دې چې خپل پوځونه د جګړې لپاره چمتو کړي. پاکستان ورته رول لوبوي، جګړې ته نه چمتو کېږي او یوازې په غندنو بسنه کوي! دوی سربېره پردې موضوع ملګرو ملتونو او امریکا ته وړاندې کړه، چې هغوی د مسلمانانو ښکاره دښمنان دي!

۴- د پاکستان لومړي وزیر عمران خان د ۲۰۱۹م کال د اګېسټ پر ۱۱مه پر خپل ټوېټر ولیکل: «د هند دغه اقدام لومړی دننه په هند کې مسلمانان ځوروي او وروسته بیا پاکستان په نښه کوي. دا یوه داسې هڅه ده، چې د توکم جاروکولو له لارې د کشمیر په دیموګرافي کې بدلون راولي.» او ده له تش په نامه نړیوالې ټولنې څخه هیله وکړه، چې په دې لانجه کې منځګړیتوب وکړي او د ده په خبره نړیواله ټولنه صلاحیت لري، چې د هند مخه ونیسي! پاکستان دا هېره کړې، چې پوځي ځواک یې د هند مخه نیولی شي... دا هغه وخت په ثبوت ورسېده، چې هند د ۲۰۱۹م کال د فبرورۍ پر ۲٦مه اعلان وکړ، چې په یوه هوایي برید کې یې ګڼ شمېر کشمیریان په کشمیري کمپونو کې وژلي دي. دا پېښه له هغه وروسته رامنځته شوه، چې ځینې کشمیري ډلو د ۲۰۱۹م کال د فبرورۍ پر ۱۴مه اعلان وکړ، چې دوی پر هندي ځواکونو د برید په پایله کې ۴۱ سرتیري وژلي دي. پاکستان د هند تر برېد وروسته اعلان وکړ، چې دوې هندي جنګي الوتکې یې غورځولې، چې یو پیلوټ یې نیولی او دوه نور یې وژلي دي.

یاد ګام د پاکستان پوځي وړتیا په ګوته کوي، چې د هند مخه نیولی او ماتې ورکولی شي، خو پاکستانی رژیم هېڅ جدي اقدام نه کوي چې د هند مخه ونیسي. پاکستان د امریکا دستورونو ته غاړه ایښې ده او امریکا له پاکستان څخه غواړي، چې د دوو الوتکو تر غورځېدو وروسته شخړې را کمې کړي. په راپورونو کې راځي: «د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپو د جیش محمد ډلې پر کمپ له برید وروسته له خپلو هندي او پاکستاني سیالانو سره ټلیفوني خبرې وکړې او پر دواړو خواوو یې ټینګار وکړ، چې له ارامۍ څخه کار واخلي او د شخړې او

خطر له هر ډول ډېرېدونکي اقدام څخه لاس په سر شي.» هغه حتا د هند له دريځ څخه ملاتړ وکړ او زياته يې کړه: « هندي هوايي بريدونه د تروريزم ضد وو او پر پاکستان يې ټينګار وکړ، چې په سيمه کې د تروريستي ډلو پر ضد جدي ګامونه واخلي.» (فرانس پريس، رويټرز، ۲۰۱۹/۲/۲۸). ياد بيان له هند سره د امريکا خواخوږي څرګندوي او د هند د هغو هڅو ملاتړ په ګوته کوي، چې هند يې په کشمير کې کوي. امريکا دې ته ورته د هغو هڅو ملاتړ کوي، چې اسراييل يې په فلسطين کې د مسلمانانو پرضد کوي، چې هغه د خپل هېواد دفاع او ازادول بولي....

سربېره پردې پاکستان د عباس ادارې او عربو رژيمونو په څېر امريکا ته په تمه دی، چې په موضوع کې د دوی لاسنيوی وکړي، که څه هم پوهېږي چې امريکا د هند پلوي کوي. په واشنګټن کې د پاکستان سفير مجيد خان د ۲۰۱۹م کال د فبرورۍ پر ۲۷مه وويل: «د امريکا د بهرنيو چارو وزات اعلاميه د هندي دريځ ملاتړ کوي او هنديان نور هم هڅوي» او زياته يې کړه: «په دې برخه کې د رول لوبولو لپاره، هېڅ هېواد د امريکا په پرتله وړ نه دی.» (فرانس پريس، ۲۰۱۹/۲/۲۸). يعنې که څه هم ده ومنله، چې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت اعلاميه د هند دريځ پياوړی کوي، خو بيا هم باوري دی چې امريکا په دې برخه کې رول لوبولی شي! د امريکا ځانګړتيا دا ده، چې د ملګرو ملتونو او امنيت شورا په وسيله دوی له خپل دريځ څخه پر شا کوي. دا هغه څه و چې پاکستاني رژيم وکړل او اعلان يې وکړ چې له هند سره نښته او تاوتريخوالی نه غواړي. د نوي ډهلي پر ضد به ملګرو ملتونو ته رسمي اعتراضليک وړاندې کړي، نور کم او زيات هيڅ نه کوي. رژيم ان اعلان وکړ، چې نيول شوی قاتل پيلوټ به هند ته سپاري او ويې سپاره. هندی پيلوټ يې د سولې د يوې نښې په توګه، لکه څرنګه چې ادعا يې کوله، هند ته وسپاره. کله چې هند کشمير له ځان سره يوځای کړ او له کشمير څخه يې کوراوکي واخيستله، نو پاکستان له ملګرو ملتونو امنيت شورا څخه د پټو دروازو تر شا د کشمير د حالت په تړاو د بېړنۍ ناستې غوښتنه وکړه... په ملګرو ملتونو کې د پاکستان سفيرې مليحه لودي د امنيت شورا پرېکړه وستايله، چې د کشمير په تړاو ځانګړې ناسته کوي. نوموړې زياته يې کړه، چې د کشمير لانجه به په نړيواله کچه مطرح کړي او حاضر دي، چې له هند سره ياده لانجه د خبرو اترو له لارې حل او فصل کړي. (العربيه الجديد، ۲۰۱۹/۸/۱۶)

۵- د پاکستان له دغه دريځ څخه ښکاري، چې ياد رژيم د هند پر وړاندې هېڅ پوځي اقدام نه کوي او نه هم د هند مخه نيسي، چې د کشمير د ځانګړي دريځ اخيستلو پرېکړه لغوه کړي او نيواک يې پای ته ورسوي. ټرمپ د ۲۰۱۹م کال د جولای پر ۲۱مه له عمران خان څخه چې د پوځ مشر جاويد بجوا او د څارګرې ادارې مشر فايض حامد هم ورسره وو، وغوښتل، چې د امريکا لپاره په افغانستان کې رول ولوبوي. ټرمپ هيله څرګنده کړه، چې پاکستان به له طالبانو سره په سياسي جوړجاړي کې منځګړيتوب وکړي، څو په افغانستان کې د امريکا ۱۸ کلنه جګړه پای ومومي. عمران خان سملاسي د ټرمپ دستور ومانه او ويې ويل: «زه به له طالبانو سره کېنم او هڅه به وکړم، چې له افغان حکومت سره خبرو ته کېني.» ټرمپ د پاکستان حکومت وستايه، چې امريکا ته يې ډېر

خدمتونه کړي دي. نوموړي وويل: «د پاکستان استخباراتو امريکا ته د اسامه بن لادين د ځای په اړه معلومات برابر کړي و.» (رويټرز، ۲۰۱۹/۷/۲۲).

پاکستان د امريکا لپاره ګڼ چوپړونه کوي، په داسې حال کې چې امريکا د پاکستان په بيه د هند ملاتړ کوي! کله چې هند د کشمير کورواکي لغوه اعلان کړه، نو د امريکا د بهرنيو چارو وزارت يوه وينا پاڼه خپره کړه، چې پکې راغلي وو: «موږ د هند او پاکستان تر منځ د کشمير او نورو اړوندو موضوعاتو په تړاو د نېغو خبرو اترو دوامدار ملاتړ کوو.» (رويټرز، ۲۰۱۹/۸/۷). امريکا د هند اقدام ونه غنده او نه يې له نړيوالو پرېکړو څخه سرغړونه وباله، خو د خبرو اترو يادونه يې وکړه، چې په دې کار سره يې عمران خان او د هغه رژيم مسخره کړ. دوی کومې خبرې اترې يادوي؟! په داسې حال کې چې هند په رسمي توګه کشمير له ځان سره يوځای کړ. له دې څخه ښکاري چې امريکا د ياد اقدام ملاتړې وه او له وړاندې يې په دې تړاو معلومات درلودل، ځکه هند له امريکا سره تر مشورې او د هغې له لوري د شين څراغ له ورکولو پرته په داسې يو اقدام لاس نشوی پورې کولی.

٦- موږ په خپل کتاب «سياسي موضوعات–اشغال شوي اسلامي هېوادونه» کې چې د ۲۰۰۴م کال د مې په ۲مه خپور شو، د کشمير په تړاو داسې ويلي و: «له همدې امله امريکا له هند او پاکستان سره يوځای تر خپل اغېز لاندې غواړي، چې دوی دواړه د کشمير په تړاو يو پوهاوی ولري. هغې د دې لانجې د حل په تړاو خپل لومړنی دريځ بدل کړی، لومړی يې غوښتل چې دغه موضوع په نړيواله کچه راپورته کړي، خو اوس له دواړو ښکېلو غاړو غواړي چې په دوه اړخيزه توګه ياده لانجه حل کړي. د امريکا اوسنی حللاره د کشمير پر دوو برخو وېشل دي، چې ازاد کشمير به په پاکستان پورې تړي او هغه کشمير چې د هند په ولکه کې دی د هند خاوره بولي.» اوس چې څه روان دي، موږ په خپل کتاب کې همغه څو کاله مخکې ويلي و. هند واقعيت ته په کتو اقدام وکړ او اشغال شوی کشمير يې له خپلې خاورې سره يوځای کړ.

۷- چين د هند دغه اقدام چې ۳۷۰ مه ماده وغنده، چې د «بيا تنظيم لايحې» تر نامه لاندې يې لغوه کوي. په دې سره اشغال شوی کشمير پر دوو سيمو وېشي: جمو-کشمير، او لدهخ او دغه دوې سيمې په ډهلي کې له فدرالي حکومت سره يوځای کوي. په ځانګړې توګه لدهخ چې د کشمير برخه ده او په تبت کې چين ته څېرمه پرته ده. هند له چين سره تر مشورې پرته ياد قانون تصويب کړ.

د چين د بهرنيو چارو وزارت وياند هوا شينګ وايي: په دې وروستيو کې هند په يو اړخيزه توګه خپل کورني قانون ته په بدلون سره د چين عرضي تماميت ته زيان رسوي... داسې کړنې موږ ته د منلو وړ نه دي او عملي اړخ هم نشي خپلولی. د بهرنيو چارو د وزير وانګ يي غبرګون له هغه وروسته مخې ته راځي، چې نوي ډهلي تېره دوشنبه د هند او چين په لوېديځې پولې اړوند د لدهخ سيمه تر خپلې ولکې لاندې اعلان کړه. هوا شينګ ټينګار وکړ،

چې چین تل له هند سره ځکه مخالف دی، چې په لوېدیځه پوله کې د چین خاوره د هند د اداري ایالت تر نامه لاندې په ځان پورې تړي. (د چین د بهرنیو چارو وزارت ویناپاڼه، ۲۰۱۹/۸/۸).

**۸- له پورته بیان شویو موضوعاتو څخه په لنډه توګه لاندې ټکي اخلو:**

الف: د امریکا شین څراغ  او ملاتړ مودي ته دا واک ورکړ، چې۳۷۰مه ماده لغوه او د کشمیر د یو ځای کېدو پروسه ترسره کړي. هند لا هم پر دغې پروسه کار وکړي، ترڅو مسلمانان کشمیر هېر او د هند او پاکستان ترمنځ ستونزه حل شي. دې ته په کتو سره، چې دواړه هیوادونه په اوسني وخت کې له امریکایي تګلارې سره سمې خپلې کړنې سرته رسوي. امریکا او هند دواړو هېر شوي یا غواړي هېر یې شي، چې کشمیر د پاکستاني او نورو سیمو د مسلمانانو لکه، نور اشغال شوې اسلامي خاورې، د دوی هستي ده....

ب: له هند سره د کشمیر د یوځای کېدو په تړاو د پاکستاني رژیم ملاتړ او چوپه خوله پاتې کېدل په دې مانا نه دي، چې د پاکستان او نورو سیمو مسلمانانو او د دوی پوځونه به چوپه خوله پاتې شي. د دغه پوځ هوایي برید د هند یاد دی او د هندي دوو الوتکو غورځېدل هم د هند په دماغ کې لا تازه دي. پاکستانی پوځ چمتو دی چې د کشمیر ازادولو په موخه پر هند برید وکړي، خو د عمران رژیم یې مخنیوی کوي. یاد رژیم یوازې د دفاع اجازه ورکوي او محدودیتونه هم پرې لګوي! که پوځ د جګړې لپاره چمتو شي څه به وشي؟ دښمن به په خپلو لاسونو ځان د تباهۍ کندې ته وغورځوي!

ج: چین د هند اقدام وغنده او د بهرنیو چارو وزارت یې یوه ویناپاڼه خپره کړه: «د هند پرېکړه یو اړخیزه ده، د چین عرضي تمامیت ګوابنې او له نړیوالو هوکړو سرغړونه ده. بیجینګ به د هند یو اړخیزه پرېکړه ونه مني، چې د کشمیر حقوقي حالت ته بدلون ورکوي.» (انادولو، ۲۰۱۹/۸/٦). چین پوهېږي چې دا کار په سیمه کې هند غښتلی کوي، هند ته له چین سره د سیالۍ توان ورکوي او د چین په څېر به یو سیمه ییز ځواک شي. د امریکا موخه هم په سیمه کې د چین د سیمه ییز ځواک ننګول دي. په ځانګړې توګه په کشمیر کې د لدهخ برخه، چې چین ته څېرمه په تبت سیمه کې پرته ده او نفوس یې کابو ۲۷۰۰۰۰ تنه دی. له چین سره له سلا مشورې پرته د کشمیر او د چین–هند پر لوېدیځه پوله د لدهخ سیمې په اړه پرېکړه، د چین سخته غوسه وپاروله. که چین له هوښیارۍ کار واخلي او د لدهخ سیمه په خپله ولکه کې واخلي، دا به امریکایي تګلاره له ماتې سره مخ کړي. د دې پرځای چې د لدهخ سیمه د چین پر ضد د امریکایي ځواکونو په لومړۍ جبهه بدله شي، ښایي د دغو ځواکونو لپاره به په یوه داسې ګړنګ بدله شي، چې بیا به یې د راپورته کېدو هیلې خاورې شوې وي!

۹- په پای کې زموږ د بدمرغۍ سرچینه په اسلامي هېوادونو کې اوسني واکمنان دي. موږ خپل ویاړ او پرتم ته د ګرځېدو لپاره  کافي ځواک لرو، ان زیات هم دی؛ ترڅو دښمن ته یو مرګونی ګوزار ورکړو! خو اوسني واکمنان

چې له الله سبحانه وتعالی، نبي کریم صلی الله علیه وسلم او مومنانو سره يې خیانت کړی او خپلو بادارانو-کافرو ښکېلاکګرو ته پر ګونډو دي، همدوی پوځونو ته د اشغال شوو سیمو د ازادولو اجازه نه ورکوي. دغه واکمنان د ملګرو ملتونو او امنیت شورا په دروازو کې په ډېره سپکه او ذلیله توګه د څو ګولو ډوډۍ سوال کوي. دا هغه څه دي چې دوی ورته په تمه دي. خو پر دې ټولو ناخوالو او غمېزو سربېره بیا هم د مسلمانانو اشغال شوې خاورې له فلسطین څخه تر کشمیر، برما، ختیځ ترکستان، قفقاز، چیچنیا او شاوخوا سیمې، کریمیا او ټولو هغو سیمو پورې چې موذن پکې اذان کوي او د اسلام دښمنانو نیولې وي، د الله سبحانه وتعالی په زور سره به په اسلام کې داخلېږي او اسلامي بیرغ به پرې رپېږي. دوی به د ساتونکی امام، رښتني خلیفه په دستور او د مجاهدینو د اسلامي پوځ پر مټ بېرته له اسلام سره یوځای کېږي....

هر هغه څوک چې غواړي په دې دنیا کې ویاړ ترلاسه او په اخرت کې د جنت فردوس لوړه درجه خپله کړي، نو باید لستوڼې بډ وهي او له دعوتګرانو سره یوځای د خلافت د تاسیس لپاره هلې ځلې وکړي او په دې لاره کې په اخلاص او صداقت سره خپل ځان او مال قرباني ورکړي.

**﴿إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ * لِمِثْلِ هَذَا فَلْيَعْمَلِ الْعَامِلُونَ﴾**

[الصافات:٦٠-٦١]

***ژباړه:*** *له شک پرته همدا ډېر لوی بری دی او د همدغه بریالیتوب لپاره باید عمل کوونکي عمل وکړي.*

**۱۴۴۰هـ.ق کال، د ذي الحجې ۱۷مه**

**۲۰۱۹ م کال، د اګېسټ ۸مه**

**ژباړن: صدیق احمدزی**